**د افغانستان اسلامي امارت**

**د پوهنې وزارت**

**د پکتیکا ولایت پوهنې ریاست**

**د کیفیت د تضمین آمریت**

# د پکتیکا ولایت پوهنې ریاست د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور




د راپور ورکولو دوره: حمل ـ حوت کال ۱۴۰۴

## مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۴ مالي کال د راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........................................ 4
د ولایت په هکله عمومي معلومات ........................................ 5
سریزه ........................................ 6
د کړنو لنډیز ........................................ 7
د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ ........................................ 11
برنامه 1: اسلامي زده کړې ........................................ 11
1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........................................ 11
1.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........................................ 11
1.3 نصاب ........................................ 13
1.4 ښوونیزه ارزونه ........................................ 13
1.5 ښوونیز چاپیریال ........................................ 14
1.6 د ټولنې ګډون ........................................ 14
1.7 مدیریت ........................................ 14
برنامه 2:ښوونه او روزنه ........................................ 15
2.1 زده کووونکی ........................................ 15
2.2 ښوونکی ........................................ 18
2.3 نصاب ........................................ 21
2.4 ښوونیزه ارزونه ........................................ 22
2.5 ښوونیز چاپیریال ........................................ 22
2.6 د ټولنې ګډون ........................................ 27
2.7 مدیریت ........................................ 28
برنامه 3: د کیفیت تضمین ........................................ 31
3.7 مدیریت ........................................ 31
برنامه 4: سرچیني او اداره ........................................ 34
4.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........................................ 34
4.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........................................ 34
4.3 نصاب ........................................ 35
4.4 ښونیزه ارزونه ........................................ 35
4.5 ښوونیز چاپیریال ........................................ 35

4.6 د ټولنې ګډون ........................................................................................ 37
4.7 مدیریت ........................................................................................ 37
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و ...) ........................................................................................ 38
5.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........................................................................................ 38
5.2 مدرس / استاد/ښوونکی ........................................................................................ 38
5.3 نصاب ........................................................................................ 38
5.4 ښوونیزه ارزونه ........................................................................................ 39
5.5 ښوونیز چاپیریال ........................................................................................ 39
5.6 د ټولنې ګډون ........................................................................................ 39
5.7 مدیریت ........................................................................................ 39
غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........................................................................................ 40
د پایلو او شننې لنډ جدول ........................................................................................ 41
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........................................................................................ 45
مالي رپوټ تحلیل ........................................................................................ 46
ملپاڼې ........................................................................................ 47

## د ۱۴۰۴ مالي کال د راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم | دنده | برېښنالیک | دا رېکي شمیره/وټساف | لاسلیک او مهر |
|---|---|---|---|---|
| مولوی فیض محمد (فیضاني) | دښوونکو دروزني او زده کوونکو چارو آمر | | ۰۷۷۱۷۱۲۱۲۹ | |
| مولوی نیاز محمد (مدثر) | مالی او اداری آمر | | ۰۷۷۲۵۶۱۵۰۶ | |
| مولوی عبدالجبار خان (اعظمي) | دکیفیت تضمین آمر | | ۰۷۶۴۱۴۸۸۲۲۳ | |
| مولوي محمد حسن (فاروق) | داسلامي زده کړو آمر | | ۰۷۷۸۰۵۰۱۱۳ | |

دپوهني رئیس تائید:

| نوم | دنده | برېښنالیک | داریکي شمیره/وټساف | لاسلیک او مهر |
|---|---|---|---|---|
| مولوی عبدالوکیل (خالد) | دپوهني رئیس | | ۰۷۶۴۶۱۶۲۷۴ | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات

**پکتیکا ولایت د ګران هیواد سهیل ختیځ  ته پروت ولایت دی، چې میشتو وګړو یې د تاریخ په اوږدو کې د هیواد په جوړښت او دفاع کې ټاکوونکې  ونډه لرلې ده.**

**جغرافیایي موقعیت:  د پکتیکا ولایت شمال او شمال لویدیځ ته غزني، د سهیل لویدیځ په یوه څنډه کې یې د زابل ولایت او همدارانګه بلوچستان ایالت موقعیت لري، سهیل او سهیل ختیځ ته له شمالي او سهیلي وزیرستان سره اوږده پوله لري او شمال ختیځ ته یې د پکتیا او خوست ولایتونه پراته دي.**

**نوموړی ولایت د ډیورند فرضي کرښې سره  ۳۶۰  کې لومتره اوږده پوله لري او مساحت یې۱۹۵۱۵.۹ کې لومتره مربع دی.**

**پکتیکا ولایت د جغرافیایي موقعیت له پلوه د عرض البلد ۳۱.۵۹ او طول البلد په ۶۹.۵۴ درجو کې موقعیت لري.**

**د پکتیکا ولایت د اقلیم له اړخه په اوړي کې تود او د تودوخې درجه یې د سانتي ګریډ تر ۳۵ درجو پورې رسیږي او په ژمي کې یې هوا سړه وي چې د یخنۍ درجه یې بیا تر منفي  ۲۰ درجو سانتي ګریډ پورې رسیږي.**

**د پکتیکا ولایت د هیواد له دویمه درجه ولایتونو څخه ګڼل کې ږي.**

**د احصایې او معلوماتو ریاست د رسمي ګڼه لیک په اساس پکتیکا ولایت د ۱۴۰۳ کال د اټکلي احصایې له مخې۹۹۴,۸۳۰ تنه نفوس لري چې۴۷۷,۴۲۴ تنه نارینه او۴۰۶۵۱۷ تنه یې ښځینه تشکیلوي.**

**د پکتیکا ولایت دپوهنې ریاست اړوند د عمومي زده کړو آمریت د ښوونځیو په هکله معلومات**

**په پکتیکا ولایت کې ټولټال  ۴۱۷ بابه دولتي ښوونځي شتون لري، چې ۲۷۶ بابه لومړني ښوونځي دي چې۵۶۹,۹۵ تنه نارینه زده کوونکې او۰۳۰,۴۸ تنه ښځینه زده کوونکې  پکې زده کړې کوي،۵۵ بابه یې منځنې ښوونځې دي چې۵۰۵,۱۶ تنه نارینه زده کوونکې  لري  او ۸۴ بابه لېسې دي چې ۵۲۷,۸ تنه نارینه زده کوونکې  په زده کړو په کې بوخت دي.**

**د پکتیکا ولایت د اسلامي زده کړو آمریت د مرکزونو په هکله معلومات**

**د پکتیکا ولایت د اسلامي زده کړو آمریت  ۷۰۲  بابه مرکزونه لري،چې ۶۸۷  بابه یې مدرسې، ۴ بابه دارالعلوم، ۲ باب دارالایتام او ۹  بابه یې دارالحفاظونو تشکیلوي.**

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:
د پکتیکا ولایت د ۱۴۰۴ مالي کال کلنی عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په ۷ عنصرونو (زده کوونکې ، ښوونکې ، نصاب، رزوننیزه ارزونه، روزنیز چاپیریال، د ټولني ګډون اومدیریت) برخو کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کیفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینی موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکې پلانونو او اړوند چارو ته ښه والی ور وبخښي.

د پکتیکا ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام دا دی د ۱۴۰۴ کال د عملیاتي پلان د پرمختګ  کلنی تشریحي راپور په ۷ برخو کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو در لودونکی دی.

۱ـ د کړنو لنډیز  برخه

۲ـ د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ تحلیل او نتیجه ګیری برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصایوي ملپاټو برخه

## د کړنو لنډیز

### 1. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کوونکی

- د دې ولایت د ٦ ولسوالیو په ١١ بابه مدرسو کې ټولټال ٣٧٠ تنه طالب العلمان چې ٢٥٥ تنه یې نارینه او ١١٥ تنه یې ښځینه دي او په ٥ بابه دارالحفاظونو کې ټولټال ٢٧٠ تنه طالب العلمان چې ٤٩ تنه یې نارینه او ٢٢١ تنه یې ښځینه دي نوي جذب شوي دي.
- د دې ولایت په ٢٣ ولسوالیو کې ټولټال ٥٥٠،١ تنه نارینه طالب العلمان د لیلیې له اسانتیاؤ څخه برخمن شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ١٢٧ د خامسه او ٩٨ د حفظ د فراغت سندونه ویشل شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ١٢٨ د عالیه دورې شهادتنامې چاپ او ویشل شوي دي.
- د ټول ګډونه شمولیت لپاره د عامه پوهاوي ١ غونډه پوهنې ریاست کې د ټول ولایت په کچه، ١٨ غونډې په ولسوالیو کې او ٤٠٢ غونډې د مرکز په شمول د ټولو ولسوالیو په ښوونیزو مرکزونو کې تر سره شوي دي.
- د ښوونکو د مسلکي پراختیا غړو له لوري د ٢٠٤ بابه ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو له کړنو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولایت د مرکز او ٢٣ ولسوالیو د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې تولټال ٥٤٢،١٥ تنه زده کوونکې چې ٨١٣،١٠ تنه یې نارینه او ٧٢٩،٤ تنه یې ښځینه زده کوونکې دي نوي جذب شوي دي.
- د عمومي زده کړو اړوند ښوونځیو لومړنۍ دورې ته ٧٦٧،٢ تنه، منځنۍ دورې ته ١٩٣ تنه او لیسې دورې ته ١٦ تنه زده کوونکي د سویې ازموینې له لارې شامل شوي دي.
- ٢٠٩ تنه راستنیدونکي متقاضیان د ټولګي د تثبیت ازموینې له لارې اړونده ټولګیو ته معرفي شوي دي.
- د دې ولایت په مرکز او ١٥ ولسوالیو کې ټولټال ٥٠٦،١ تنه سواد زده کوونکې د سواد زده کړو په ټولګیو کې جذب شوي دي.
- د دې ولایت د مرکز په ګډون ٢٥ ولسوالیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او نظافت برخه کې د عامه پوهاوي برنامې دایرې شوي چې ٤٧٥،١٣ تنه زده کوونکي ورڅخه برخمن شوي دي.
- د ٨٥١،٤ تنه نویو شامل شویو زده کوونکو روغتیایي معاینات ترسره او له روغتیایي سموالي څخه یې ډاډ ار لاسه شوی دی.

### 2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو په ښوونیزو مرکزونو کې ١٢٠ تنه مدرسین د ازادې سیالۍ له لارې په خالي بستونو کې په دندو ګمارل شوي دي.
- په مدرسو کې د صنفي اصولو/لومړۍ دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو لارښود د پوهنې وزارت څخه د دې ولایت پوهنې ریاست ته رالیږل شوی دی. او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو، دارالعلوم او مدرسو سره د پلي کیدلو په موخه رسماً شریک شوی دی.
- د رشتې خلاف مدرسینو لارښود د پوهنې وزارت څخه د دې ولایت پوهنې ریاست ته رالیږل شوی دی او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مدرسو سره رسماً شریک شوی دی. همدارنګه د ولسوالیو پوهنې آمریتونو او مدرسو ته د نومړي لارښود د پلي کولو په هکله لازمي لارښوونې تر سره شوي دي.
- د رشتې خلاف ښوونکو پیژندنې په برخه کې د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لارښوونه شوې ده او معلومات یې راټول شوي دي.

- د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترين ښوونکي د توظيفولو لاربنود د پوهنې وزارت څخه را استول شوی او د دې ولايت د پوهنې رياست اړوند ټولو پوهنې آمريتونو ته يې په هکله لاربښوونه تر سره شوې ده.
- د دې ولايت د پوهنې رياست اړوند د ساينس مرکز ۴ تنه علمي غړي د ظرفيت لوړونې د ۱۲ ورځني سيمينار څخه برخمن شوي دي.

3. نصاب

- د ښوونيز کال له پيل څخه د مخه د ښوونيزو مرکزونو، اداري کتابونو فارمې د پوهنې وزارت څخه دې ولايت ته راستول شوی دی او د مرکز په شمول د ټولو ولسواليو د پوهنې آمريتونو سره رسماً شريک شوی دی.
- د اورگون ولسوالۍ اړوند د سرخت او جونخيل ښوونځيو ته ۱۳ سيټه د ښوونيز نصاب سره سم د تجربو د لاربنود کتابونه ويشل شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۴ ولسواليو کې ۱ د بيولوژي موډل، ۱۳ مختلف چارتونه، ۴۸ د رياضي کيټونه او ۴۵ بايه منځنيو ښوونځيو ته ٦۴۷ بساط چارتونه ويشل شوي دي.
- د صنفي اصولو درسي کتابونو د کمښت اړتيا سنجونه د پوهنې رياست د ښکيل اړخونو سره په همغږۍ تر سره شوې ده چې د هغې له مخې په دې ولايت کې ۳۲۹،۷۵ ټوکه درسي کتابونو ته ضرورت ليدل کيږي.
- د پوهنې وزارت څخه دې ولايت ته دکليوالي مدرسو ۲۷۴،۵ ټوکه درسي کتابونه او د عمومي زده کړو ۰۷۰،۲۸ ټوکه درسي کتابونه راستول شوي دي. چې دمرکز په شمول ۲۵ ولسواليو ته ويشل شوي دي.

4. روزنيزه ارزونه

- د دولسم ټولگي د علماء کرامو ۱۲۷ سندونه چې ۸۳ يې د مشترکې ازموينې او ۴۴ يې د ارزونې ازموينې سندونه دي او د خوارلسم ټولگي د علماء کرامو ۱۲۵سندونه چې ۸۱ يې د مشترکې ازموينې او ۴۴ يې د ارزونې ازموينې سندونه دي د پوهنې وزارت څخه راستول شوي او د اسلامي زده کړو د آمريت له لوري ويشل شوي دي.

5. روزنيز چاپېريال

- د دې ولايت د مرکز او ۵ ولسواليو له ۱۲ بابه ښوونيزو مرکزونو څخه د تجهيز په موخه اړتيا سنجونه تر سره شوې ده.
- د دې ولايت په مرکز او ۳ ولسواليو کې د ۸ بابه ښوونځيو لابراتوارونه په کيمياوي، بيولوژيکي او فزيکي موادو تجهيز شوي دي.
- په مرکز او يوسف خيل ولسوالۍ کې ۲۷۰ زينتي نيالگي کينول شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۵ ولسواليو کې ۴۳ بابه د سواد زده کړې کورسونه نوي تاسيس شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او اورگون ولسوالۍ کې ۲ نيمه کاره پروژې د ۱۴۰۵ کال د نيمه کاره ساختماني پروژو په ليست کې پلان او اچول شوي دي.
- د دې ولايت په مرکز او ۱۷ ولسواليو کې۲۸ ښوونيز او اداري مرکزونه د پوهنې وزارت د عادي بوديجې څخه ترميم شوي دي.
- د ۲۲ ترميماتي پروژو له تطبيق او بشپړولو څخه مقطعي خارنه تر سره شوې ده.

6. د ټولنې گډون

- د دې ولايت په مرکز او ۱۳ ولسواليو کې د کليو په کچه د سواد زده کړو ۷۱ کمېټې رامنځته شوي دي.همدارنگه د سواد کمېټو ۲ غونډه د ولايت په کچه، ۲٦ غونډې د ولسواليو په کچه او ٦٦ غونډې د کليو په کچه د ټولنې د گډون د جلبولو په موخه تر سره شوي دي.

- د دې ولايت  په ۵ ولسواليو کې ۳۱،۰۵ جريبه ځمکه د سيمې د خلکو له لوري ۱۰ بابه ښوونځيو ته وقف شوې ده.

## 7. مدیریت

- د مرکز پوهنې آمريت اړوند ۱۰ بابه ښوونځيو د بدني روزنې مضمون د درسي مفرداتو له تطبيق څخه څارنه تر سره شوې ده.
- ٦ مياشتني علمي راپورونه له توحيد او شننې  څخه وروسته له اړونده مرجع سره شريک شوي دي.
- د ساينس مرکز علمي غړو له لوري په ۴ ولسواليو کې  د ۳۴ لابراتوارونو او کمپيو ټرليبونو څخه حمايوي څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولايت د مرکز او ولسواليو د ۴۰۲ بابه ښوونځيو  او ۲۷۵ بابه د سواد زده کړې کورسونو څخه حمايوي څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولايت د مرکز او ولسواليو د ۲۱۳,۳ تنه ښوونکو د  درسونو څخه  لېدنه تر سره  شوې ده.
- د ۴۰۲  تنه سرښوونکو او۳۳۷ تنه آمرينو/مديرانو د  کاري چارو څخه لېدنه  تر سره شوې ده.
- د دې ولايت  د  مرکز او ولسواليو په ۴۰۲ بابه ښوونيزو مرکزونو  کې په شرايطو برابرو ماشومانو د شموليت له بهير څخه حمايوي څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولايت په مرکز او ۲۴ ولسواليو کې ۱۳۰,۱ بابه ښوونېزو مرکزونو ته چې ۴۲۸ بابه د عمومي زده کړو مرکزونه او ۷۰۲ بابه د اسلامي زده کړو مرکزونه  دي  احصائيوي فورمې چاپ او ويشل شوي دي.
- د دې ولايت د پوهنې رياست اړوند ۲۲  پوهنې آمريتونو څخه د عملياتي پلان د پرمختگ ۱۹۰ مياشتني راپورونه راټول شوي دي. همدارنګه د پوهنې رياست د عملياتي پلان د پرمختګ  ۴ تشريحي راپورونه  له تحليل او توحيد څخه وروسته رسمآ د پوهنې وزارت سره شريک شوي دي.
- د څارنې او ارزونې مسلکي  غړو له لوري  د ١٦ ولسواليو د  ۵۰ بابه ښوونځيو،۳۱ بابه مدرسو او ۱۲۳ بابه سيمه ايزو زده کړو ټولګيو له کړنو او عملياتي پلانونو له پرمختګ څخه څارنه او ارزونه ترسره شوې ده، چې راپور يې د پوهنې وزارت سره رسمآ شريک شوی دی.
- د دې ولايت د پوهنې رياست د مرکزي هستې ۹۰ تنه  کارکوونکو ته د پلان، راپور او ارزونې فورمو او نورو اداري کارونو  په برخه کې د ظرفيت لوړونې سمينار داېر شوی دی.
- د دې ولايت  په مرکز او ۱۳ ولسواليو کې ۱۳  ښوونيزو ادارو او ۲  ښوونيزو مرکزونو لپاره شخصي وداني په کرايه نيول شوي دي.
- د دې ولايت پوهنې رياست ته ۲۱۰  ټوکه د عرفان مجلې، ۲۹۳  ټوکه د بخوان وبينديش مجلې او ۵۷۴ د پوهنې اونيزې د پوهنې وزارت څخه  راستول شوي،  چې د پوهنې رياست مرکزي هستې آمريتونو، مديريتونو او د ټولو ولسواليو  پوهنې آمريتونو ته  ويشل شوي دي.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

- نومړی ولايت يو سرحدي او غرنی ولايت دی، د ښوونې او روزنې کچه  پکې ډېره ښکته ده بايد کارکوونکو ته دښوونيزې کچې د لوړولوپه برخه کې سيمينارونه دائر شي.

- د دې ولایت د پوهنې ریاست د تشکیل د کمښت سره مخ دی د لومړنۍ او منځنۍ دورې هغه ښوونځي چې ارتقاء ته یې اړتیا لیدل کېده د تشکیل د کمښت له امله ارتقاء نه ده ورکړل شوې باید یاد ولایت ته اضافي تشکیل ورکړل شي.
- د دې ولایت اړوند ښوونځي د درسي کتابونو د کمښت سره مخ دي، باید درسي کتابونه چاپ او د یاد ریاست په واک کې ورکړل شي.

## د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

## برنامه 1: اسلامي زده کړې

### 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی

#### 1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو ته په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**1.1 فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونوکې د طالب العلمانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د ٦ ولسوالیو په ۱۱ بابه مدرسو کې ټولټال ۳۷۰ تنه طالب العلمان چې ۲۵۵ تنه یې نارینه او ۱۱۵ تنه یې ښځینه دي او په ۵ بابه دارالحفاظونو کې ټولټال ۲۷۰ تنه طالب العلمان چې ۴۹ تنه یې نارینه او ۲۲۱ تنه یې ښځینه دي نوي جذب شوي دي.

**1.2 فعالیت :په دارالعلومونوکې د شمولیت زیاتوالی**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اورګون ولسوالی د اورګون دارالعلوم په لومړي ټولګي کې ۵۳ تنه نارینه طالب العلمان نوي جذب شوي دي. همدارنګه د دې ولایت په ۱ باب دارالعلوم کې ټولټال ۴۵٦ تنه طالب العلمان چې له جملې یې ۱۷۵ تنه له ۱-۳ پورې ټولګیو کې، ۹۲ تنه له ۴-٦ پورې ټولګیوکې، ۸۵ تنه له ۷-۹ پورې ټولګیو کې، ٦۱ تنه له ۱۰-۱۱ پورې ټولګیو کې او ۴۳ تنه له ۱۲-۱۴ پورې ټولګیو کې نوي شامل شوي دي.

**1.3 فعالیت د اسلامي زده‌کړو د مرکزونو په مِېبیت (لیلیه) کې جذب شوي طُلاب**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په ۲۳ ولسوالیو کې ټولټال ۵۵۰,۱ تنه نارینه طالب العلمان د لیلیې د اسانتیاؤ څخه برخمن شوي دي.

#### 1.1.2 لومړیتوب: د شهادتنامو وېش

**2.1 فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه د ازموینې اخیستنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز له لوري له طالب العلمانو څخه د مافوق ثانویه درجې ازموینه نه ده اخیستل شوې.

**2.2 فعالیت: د خامسه او حفظ فارغانو لپاره د فراغت اسنادو وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې ټولټال ۲۲۵ د خامسې او حفظ درجې سندونه چې له جملې یې ۱۲۷ د خامسې او ۹۸ د حفظ د فراغت سندونه دي طالب العلمانو ته وېشل شوي دي.

#### 1.1.3 لومړیتوب: د شهادتنامو چاپ او وېش

**۳،۱ فعالیت: د عالیه دورې د شهادتنامو چاپ او وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د عالیه دورې ۱۲۸ شهادتنامې چاپ او وېشل شوې دي.

### 1.2 مدرسي / استاد/ښوونکی

#### 1.2.1 لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

**2،1 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د رشتې خلاف مدرسينو لاربښود د پوهنې وزارت څخه د دې ولايت پوهنې رياست ته رالېږل شوی دی او د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او مدرسو سره رسماً شريک شوی دی. همدارنگه د ولسواليو پوهنې آمريتونو او مدرسو ته د نومورې لاربښود د پلي کولو په هکله لازمې لارښوونې تر سره شوي دي.

۲،2 فعاليت: د رشتې خلاف مدرسينو د ستونزو د حل لاربښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د دارالعلومونو او مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لاربښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د رشتې خلاف مدرسينو لاربښود د پوهنې وزارت څخه د دې ولايت پوهنې رياست ته رالېږل شوی دی او د ولسواليو د پوهنې آمريتونو، دارالعلوم او مدرسو سره د تطبيق په موخه رسماً شريک شوی دی. همدارنگه د ولسواليو د پوهنې آمريتونو دارالعلوم او مدرسو ته د نومورې لاربښود د پلي کولو په هکله لازمې لاربښوونې تر سره شوي دي.

### 1.2.2 لومړيتوب: د صنفي اصولو/ لومړی دورې لپاره د مناسب ترين ښوونکې د توظيفولو په موخه د اړينو تدبيرونو نيول

۲،۱ فعاليت: د لاربښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لاربښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې په مدرسو کې د صنفي اصولو/لومړی دورې لپاره د مناسب ترين ښوونکې د توظيفولو لاربښود د پوهنې وزارت څخه د دې ولايت پوهنې رياست ته رالېږل شوی دی. او د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او مدرسو سره د تطبيق په موخه رسماً شريک شوی دی. همدارنگه د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او مدرسو په کچه د نومورې لاربښود د پلي کولو په هکله لازمې لاربښوونې تر سره شوي دي.

۲،۲ فعاليت: د لاربښود د تطبيق لپاره د ولايتونو د پوهنې رياستونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او دارالعلومونو او مدرسو د ښوونيزو مرکزونو لاربښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې په مدرسو کې د صنفي اصولو/لومړی دورې لپاره د مناسب ترين ښوونکې د توظيفولو لاربښود د پوهنې وزارت څخه دې ولايت پوهنې رياست ته رالېږل شوی دی. او د ولسواليو د پوهنې آمريتونو، دارالعلوم او مدرسو سره د تطبيق په موخه رسماً شريک شوی دی. همدارنگه د ولسواليو د پوهنې آمريتونو، دارالعلوم او مدرسو په کچه د نومورې لاربښود د پلي کولو په هکله لازمې لاربښوونې تر سره شوي دي.

### 1.2.3 لومړيتوب: د ښوونيزو مرکزونو د خالي بستونو لپاره د رشتې مطابق د مسلکې مدرسينو پر وخت گمارنه

۳،۱ فعاليت: د کړنلارې مطابق د مرکز او ولايتونو په کچه د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم له مسلکې مدرسينو څخه ازموينه اخيستل
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مرکز په شمول د ټولو ولسواليو په ښوونيزو مرکزونو کې د ۱۲۰ تنه د رشتې سره سم مدرسينو څخه په خالي بستونو کې ازموينه اخيستل شوې ده.

### 1.2.4 لومړيتوب: د علمي کادر اجراء کول

۴،۱ فعاليت: د دارالعلومونو د استادانو د علمي کادر او علمي رتبې اجراء کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د علمي کادر امتياز د پوهنې وزارت څخه منظور شوی نه دی.

### 1.2.5 لومړيتوب: د نويو مقرر شوو استادانو او مديرانو د وړتياوو لوړول او مسلکې پراختيا

۵،۱ فعاليت: په هغو دارالحفاظونو او مدرسوکې چې د حفظ شعبې لري د حفظ استادانو لپاره سمينار وړاندې کول

د ۱۴۰۴ مالي کال  په جریان کې د پوهنې وزارت له لوري په زون کې د نویو مقرر شوو استادانو او مدیرانو د وړتیا لوړولو لپاره سیمنیار دائر شوی نه دی.

### 1.2.6 لومړیتوب: د طالب العلمانو د درسي پروګرامونو د تطبیق او د زده‌کړې د ارزونې د پایلو اوسط د بررسي کولو په منظور د هیئت لېږل

۱،٦ فعالیت: د طالب العلم د درسي پروګرامونو د تطبیق او زده‌کړې ارزونې د پایلو د اوسط څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دارالعلومونو د بررسی لپاره د پوهنې وزارت پلاوي دې ولایت پوهنې ریاست ته سفر نه دی تر سره کړی.

### 1.2.7 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د مدرسینو او استادانو د ارزونې برسي کول

۱،۷ فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي  پراختیا د غړو له لوري د مدرسینو او استادانو د ارزونې څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د کاري حجم د زیاتوالي له امله په ښوونېزو مرکزونو کې د استادانو او مدرسینو ارزونه نه ده تر سره شوې.

### 1.2.8 لومړیتوب: له ولایتونو څخه د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه

۱،۸ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي  پراختیا غړو د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ښوونکو د مسلکي  پراختیا غړو  ۱ راپور ترتیب او د اسلامي زده کړو معینیت ته استول شوی دی.

## 1.3 نصاب

### 1.3.1 لومړیتوب: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو په کچه په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو  ویش

۱،۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د  ښوونیز کال له پیل څخه د مخه د ښوونېزو مرکزونو، اداري کتابونو فارمې د پوهنې وزارت څخه راستول شوی دی او د مرکز په شمول د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو سره رسماً شریک شوی دی او په راتلونکې کې به په مرکز پوهنې ریاست او په ولسوالیو کې سیمینارونه هم دائر شي.

### 1.3.2 لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب سره سم د اسلامي زده‌کړو معینیت ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

۲،۱ فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب مطابق د درسي کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال  په جریان کې د دیني مدرسو د ښوونېز نصاب سره سم ښوونیز کتابونه د پوهنې وزارت څخه پکتیکا ولایت پوهنې ریاست ته نه دي راستول شوي.

## 1.4 ښوونیزه ارزونه

### 1.4.1 لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول

۱،۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم ټولګي او څوارلسم ټولګي د علماء کرامو د سویې تثبیتول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دوولسم ټولګي د علماء کرامو ۱۲۷ سندونه چې ۸۳ یې د مشترکې ازموینې او ۴۴ یې د ارزونې ازموینې سندونه دي او د څوارلسم ټولګي د علماء کرامو ۱۲۵سندونه چې ۸۱  یې د مشترکې ازموینې او ۴۴ یې د ارزونې ازموینې سندونه دي د پوهنې وزارت څخه  راستول شوي او د اسلامي زده کړو د آمریت لخوا ویشل شوي دي.

#### 1.4.2 لومړيتوب: د ولايتونو په کچه د ګډې ازموينې اخيستل

۲،۱ فعاليت: د ثانويه مرحلې، (د ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموينه اخيستل

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په کچه د ۴۲۵ تنو څخه د خامسه درجې ازموينه اخيستل شوې ده.

۲،۲ فعاليت: د فوق ثانويه مرحلې، (د سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموينه اخيستل

د ۱۴۰۴ مالي کال  په جريان کې د دې ولايت په کچه د ۱۵۸ تنو څخه د  سادسه اوسابعه درجې ازموينه اخيستل شوې ده.

### 1.5 ښوونيز چاپيريال

#### 1.5.1 لومړيتوب: په مرکز او ولايتونوکې د مدرسو رامنځته کول

۱،۱ فعاليت: د نارينه طالب العلمانو لپاره د ديني مدرسو رامنځته کول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د پوهنې وزارت له لوري په دې ولايت کې د نارينه طالب العلمانو لپاره ديني مدرسه نه ده رامنځته شوې.

#### 1.5.2 لومړيتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعيت بدلون او مُبيت رامنځته کول

۲،۱ فعاليت: په ۳۴ ولايتونوکې د ليليې رامنځته کول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د پوهنې وزارت له لوري په  دې ولايت کې ليليه  نه ده رامنځته شوې.

۲،۲ فعاليت: د اسلامي زده‌کړو د نويو ښوونيزو مرکزونو تأسيسول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د پوهنې وزارت له لوري د اسلامي زده کړو نوي ښوونيز مرکزونه نه دي تاسيس شوي.

۲،۳ فعاليت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو مرکزونو د نوعيت بدلون

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د اسلامي زده کړو د ښوونيزو مرکزونو د نوعيت د بدلونه غوښتنه نه ده شوې.

۲،۴ فعاليت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو مرکزونو د نوم بدلون

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د اسلامي زده کړو د ښوونيزو مرکزونو د نوم د بدلون غوښتنه نه ده شوې.

۲،۵ فعاليت: دارالعلوم ته د مدرسې لوړېدل

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د معيار د نه پوره کولو له امله هيڅ مدرسې دارالعلوم ته ارتقا نه ده کړې.

۲،٦ فعاليت: دارالعلوم ته د ارتقاء لپاره د مدرسو څېړنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د معيار د نه پوره کولو له امله هيڅ مدرسې دارالعلوم ته ارتقا کړې نه ده.

### 1.6 د ټولنې ګډون

د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هيڅ ډول لومړيتوب يا فعاليت په عملياتي پلان کې نه دی شامل.

### 1.7 مديريت

#### 1.7.1 لومړيتوب: د دارالعلومونو د استادانو، مامورينو او اجيرانو ازموينه اخيستل

۱،۱ فعاليت: د دارالعلومونو د استادانو، مامورينو او اجيرانو ازموينه اخيستل

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت په دارالعلوم کې د استادانو، مامورينو او اجيرانو ازموينه نه ده اخيستل شوې، ځکه د تقرر پروسه ځنډول شوې ده.

### 1.7.2 لومړيتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو او تحصيلي مرکزونو د تشکيلاتي اړتياوو د رفع کولو په موخه د بستونو وېش

۲،۱ فعاليت: هغو مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد چې بست ته اړتيا لري

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې دا فعاليت نه دی تر سره شوی ځکه چې د اسلامي زده کړو مرکزونو ته د بستونو ويش او انتقال د پوهنې وزارت له لوري ځنډول شوی دی.

### 1.7.3 لومړيتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونيزو او تحصيلي مرکزونو د تآسيسولو په موخه د بستونو وېش

۳،۱ فعاليت: جديدالتأسيس مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د اسلامي زده کړو نوي مرکزونه د پوهنې وزارت له لورې نه دي تاسيس شوي.

## برنامه 2:ښوونه او روزنه

### 2.1 زده کووونکی

### 2.1.1 لومړيتوب: د ټول ګډونه شموليت لپاره عامه پوهاوی او د زده کړو په شرايطو برابرو ماشومانو زده کړه

۱،۱ فعاليت: د ۱۴۰۵ ښوونيزکال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دايرولو په منظور د ولايتونو د پوهنې رياست، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او د ښوونيزو مرکزونو د شوراګانو لاربښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ولسواليو پوهنې آمريتونو او د ښوونيزو مرکزونو شوراګانو ته د ۱۴۰۵ ښوونيز کال لپاره د زده کړي په شرايطو برابرو ماشومانو د شموليت او زده کړې د عامه پوهاوي په هکله لارښوونه تر سره شوې ده.

۱،۲فعاليت: د مرکز، ولايتونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي برنامې دايرول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د عامه پوهاوي ۲ غونډه پوهنې رياست کې د ټول ولايت په کچه، ۲٦ غونډې په ولسواليو کې او ۴۰۲ غونډې د مرکز په شمول د ټولو ولسواليو په ښوونيزو مرکزونو کې تر سره شوي دي.

۱،۳ فعاليت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړيزه څارنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ښوونکو د مسلکي پراختيا د غړو له لوري د ۳٦۲ بابه ښوونيزو مرکزونو د شوراګانو له کړنو څخه څارنه ترسره شوې ده.

### 2.1.2 لومړيتوب: د زده‌کړې په شرايطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځايه شوو د شموليت لپاره د زمينې برابرول

۲،۱ فعاليت: په ټولو ښوونيزو مرکزونوکې د زده‌کوونکو غيرحاضري او د زده‌کړې پرېښودل ۲ سلنه ټيټوالی

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د مرکز او ټولو ولسواليو په ښوونيزو مرکزونو کې د زده کوونکو د زده کړې پريښودلو او غير حاضرۍ کې ۲ سلنه ټيټوالی رامنځته شوی دی.

۲،۲ فعاليت: د لومړنۍ دورې د جديدالشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت د مرکز او ۲۳ ولسواليو د عمومي زده کړو په ښوونځيو کې ټولټال ۵۴۲،۱۵ تنه زده کوونکې چې ۸۱۳،۱۰ تنه يې نارينه او ۷۲۹،۴ تنه يې ښځينه زده کوونکې دي نوي جذب شوي دي.

۲،۳ فعالیت: په لومړنی، منځنی او لېسه دوروکې د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو، تر لنډ مهاله ښووني لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو جذبول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د عمومي زده کړو ښوونځیو لومړنۍ دورې ته ۷٦۷٫۲ تنه، منځنۍ دورې ته ۱۹۳ تنه او لېسې دورې ته ۱٦ تنه زده کوونکې د سویې ازموینې له لارې شامل شوي دي.

۲،۴ فعالیت: د کوچیانو د جدیدالشمولانو زده‌کوونکو جذبول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د کوچیانو په ښوونځیو کې د جذب په هکله غوښتنه نه ده شوې.

۲،۵ فعالیت: په مرکز او ولایتونوکې د پوهنې د همکارو مؤسسو له لوري له ښوونځي مخکې برنامه کې د جدیدالشمولانو جذبول
په دې ولایت کې له ښوونځیو مخکې برنامې شتون نه لري.

۲،٦ فعالیت: له پولې بهر راستنېدونکو او مجاهدینو د ښوونیزو اسنادو نه لرونکو متقاضیانو د ټولګي تثبیت
د ۱۴۰۴ مالي کال په په جریان کې ۲۰۹ تنه راستنیدونکې متقاضیان د ټولګي د تثبیت ازموینې له لارې اړونده ټولګیو ته معرفي شوي دي.

### 2.1.3 لومړیتوب: د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول

۳،۱ فعالیت: له اړوندو مرکزونو سره په همکارۍ د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې محل کې په شرایطو برابرو ټولو لویانو د نوملړ چمتوکول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۵ ولسوالیو کې ټولټال ۵۰٦٫۱ تنه سواد زده کوونکې د سواد زده کړو په ټولګیو کې جذب شوي دي.

۳،۲ فعالیت: دکوچیانو په شرایطو برابرو لویانو شمولیت
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بودجې او تشکیل د کمبود له امله په شرایطو برابرو کوچیانو لپاره د زده کړې زمینه برابره شوې نه ده.

۳،۳ فعالیت: د جوماتونو د ملا امامانو له لارې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بودیجې او تشکیل د کمښت له امله نوموړی فعالیت نه دی تر سره شوی.

۳،۴ فعالیت: د سواد زده‌کړې په کورسونو، حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیوکې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۵ ولسوالیو کې ټولټال ۵۰٦٫۱ تنه سواد زده کوونکي د سواد زده کړو په ټولګیو کې جذب شوي دي.

۳،۵ فعالیت: د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شوو شمولیت
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې راستنیدونکو او بې ځایه شویو ته د بودیجې د نه شتون له امله د زده کړو زمینه نه ده برابره شوې.

### 2.1.4 لومړیتوب: د روغتیایی مرکزو په مرسته د جدیدالشمولانو د روغتیا په ځانګړې توګه د اوریدلو، لیدلو، ژامو،خولې، غاښونو او ساري ناروغیو د معایناتو څخه ډاډ ترلاسه کول

۴،۱ فعالیت: د جدیدالشموله زده‌کوونکو له روغتیایي سموالي څخه اطمینان

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د ۸۵۱,۴ تنه نويو شامل شويو زده کوونکو روغتيايي معاينات ترسره او له روغتيايي سموالي څخه يې ډاډ ر لاسه شوی دی.

### 2.1.5 لومړيتوب: په ښوونځيو کې د اوبو، روغتيا ساتنې، نظافت( WASH ) د برنامو تطبيق او د لومړنيو مرستو د کېټونو او تبليغاتي روغتيايي موادو وېش

۵،۱ فعاليت: د زده‌کوونکو او ښوونکو لپاره د پوهاوي ورکولو برنامو دايرول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د مرکز په ګډون ۲۵ ولسواليو کې د اوبو، روغتيا ساتنې او نظافت برخه کې د عامه پوهاوي برنامې دايرې شوي چې ۴۷۵,۱۳ تنه زده کوونکې ورڅخه برخمن شوي دي.

۲،۵ فعاليت: د روغتيايي تبليغاتي موادو، د حفظ الصحې او نظافت کې تونو او لومړنيو مرستو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان د مرکز پوهنې آمريت اړوند ٦ بابه( حضرت بلال نمونه يي لېسه، سيد جلال بخاري لېسه، بي بي خديجې منځنی ښوونځی، بي بي آمينه، ميراغا او ضياګل) لومړنيو ښوونځيو کې د اوبو، روغتيا ساتنې او نظافت په برخه کې څارنه او ارزونه ترسره شوې ده ،چې په ترڅ کې يې د حفظ الصحې او نظافت ۵۰۰ بروشرونه هم زده کوونکو ته ويشل شوي دي.

### 2.1.6 لومړيتوب: د هېواد په ښوونځيوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجيو د محوه‌کولو سراسري کمپاين

٦،۱ فعاليت: د ښوونځيو د کچې ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجيو ضد تابلېټو وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې په ښوونځيو کې د زده کوونکو لپاره د کولمو د چنجيو د محوه کولو ګولۍ دپوهنې وزارت څخه نه دي رالېږل شوي.

### 2.1.7 لومړيتوب: د ښوونځيو په کچه د سياليو په لاره اچول او د ورزشي څېرو پېژندنه

۷،۱ فعاليت: په مرکز او ولايتونوکې د پوهنې د منتخبو ټيمونو د غوراوي لپاره په ښوونځيوکې د پسرلنيو او خزاني، مناسبتي او دوستانه سياليو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کی د اورګون زون پورې تړلې ۸ ولسواليو لپاره د سروبي ولسوالۍ په مرکزي لېسه کې د ۱۸ لوبډلو ترمنځ دکرکټ دلوبو سيالۍ په لاره اچول شوي دي.

۷،۲ فعاليت: په ملي او نړۍ‌والو سياليوکې د پوهنې د منتخبو ټيمونو د ورزشکارانو ګډون

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د دې ولايت څخه ملي او نړيوالو سياليو ته زده کوونکې نه دي لېږل شوي.

### 2.1.8 لومړيتوب: په خصوصي مرکزونوکې د ښوونې او روزنې د زمينې برابرول

۸،۱ فعاليت: د هغو زده‌کوونکو د درې‌کلنو نمرو ترتيبول او ژباړل چې د زده‌کړې د ادامې په موخه له هېواده بهر سفرکوي

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې په دې هکله زده کوونکو غوښتنه نه ده کړې.

۸،۲ فعاليت: ا د اړوندو قوانينو او لارښودونو مطابق د خصوصي ښوونيزو مرکزونو د زده‌کوونکو د تصديق‌ليکونو اجراکول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د خصوصي ښوونيزو مرکزونو زده کوونکو د تصديق ليکونو د اجرا غوښتنه نه ده کړې.

۸،۳ فعاليت: په خصوصي ښوونځيو او ښوونيزوکورسونوکې د يتيمو، بې وزله ماشومانو، د شهيدانو ورثې او معلولينو د فيس د تخفيف اجرا کول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جريان کې د خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو مرکزونو د کورسونو مسولينو د بې وزله ماشومانو، د شهيدانو وارثانو او معلولو زده کوونکو د تخفيف ليستونه نه دي شريک کړي.

### 2.1.9 لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د المپیاد(علمي سیالیو) او د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرول

**۹،۱ فعالیت:** د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د طالب العلمانو، حافظانو، زده کوونکو او سواد زده کوونکو لپاره د علمي سیالیو او د ساینس او ریاضیاتو د علمي پروژو د دایرولو لارښود د پوهنې وزارت څخه د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست ته راستول شوی او د نوموړي لارښود د تطبیق لپاره د پکتیکا ولایت پوهنې ریاست ته لارښوونه تر شوې ده.

**۹،۲ فعالیت:** د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د مرکز او ۲۵ ولسوالیو پوهنې امریتونو ته د طالب العمانو،حافظانو،زده کوونکو او سواد زده کوونکو لپاره د علمي سیالیواو د ساینس او ریاضیاتو د علمي پروژو د دایرولو لارښود رسمآ لیږل شوی دی او د تطبیق لپاره یې لارښوونه ورته شوې ده.

**۹،۳ فعالیت:** د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لورې د نوموړي لارښود د پلي په موخه ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.

**۹،۴ فعالیت:** د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ۴۳ بابه ښوونیزو مرکزونو په کچه علمي سیالۍ تر سره شوي دي.

**۹،٦ فعالیت:** د ولسوالیو د پوهنې آمریت په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول
د روان ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه علمي سیالۍ تر سره شوي دي.

**۹،۷ فعالیت:** د ولایتونو د پوهنې د ریاستونو په کچه د علمي سیالیو او عملي پروژو دایرول
د روان ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولایت په کچه علمي سیالۍ تر سره شوي دي.

## 2.2 ښوونکی

### 2.2.1 لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو په منظور د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو روزنه

**۲،۱ فعالیت:** د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د ساینس مرکز ۴ تنه علمي غړي د ظرفیت لوړونې د ۱۲ ورځنې سیمینار څخه برخمن شوي دي.

### 2.2.2 لومړیتوب: د رشتې خلاف او غیر مسلکې ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړل او مسلکې پراختیا

**۱،۲ فعالیت:** د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکې توب یوه کلنه برنامه دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بودیجې د نه شتون له امله د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکیتوب یوه کلنه برنامه دایره شوې نه ده.

**۲،۲ فعالیت:** د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیرمسلکې او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې پوهنې وزارت څخه کوم پلاوی د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیر مسلکې او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونو د ظرفیت لوړونې لپاره دې ولایت ته سفر نه دی تر سره کړی.

### 2.2.3 لومړیتوب: د ساینس، ریاضیاتو اوکمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابراتګانو وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

**۳،۱فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو لپاره د ورکشاپونو دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت له لوري د ښوونیزو مرکزونود ساینس، ریاضیاتو او د کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونولپاره د ظرفیت لوړونې ورکشاپونه دایر شوي نه دي.**

### 2.2.4 لومړیتوب: د رشتي خلاف ښوونکو د ستونزو حلولو لپاره د تدبیرونو نیول

**۴،۱ فعالیت: د رشتي خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د رشتي خلاف ښوونکو پیژندنې په برخه کې د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لارښوونه شوې ده او معلومات یې راټول شوي دي.**

**۲،۴ فعالیت: د رشتي خلاف ښوونکو پېژندنه او معلومات راټولول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د رشتي خلاف ښوونکو معلومات راټول شوي دي.**

### 2.2.5 لومړیتوب: د موجودو مدرسینو، استادانو او ښوونکو د رشتي سره سم توظیف لپاره اړین تدبیرونه نیول

**۵،۱ فعالیت: د رشتي سره سم د ښوونکو د توظیفولو د لارښود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د کارکوونکو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو ته د رشتي سره سم د ښوونکو دتوظیفولو د لارښود په برخه کې لارښوونه ترسره شوې ده.**

**۵،۲ فعالیت: د رشتي سره سم ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د دوامدارې ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو کې د رشتي سره سم د ښوونکو دتوظیفولو د لارښود د تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.**

### 2.2.6 لومړیتوب: د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

**٦،۱ فعالیت: د چمتو شوي لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې پوهنې ریاست، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو ته د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونه تر سره شوې ده.**

**٦،۲ فعالیت: د لارښود له تطبیق څخه د دوامدارې ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه او د صنفي اصولو د دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي توظیفول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې ریاست، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو ته د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.**

### 2.2.7 لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول او هغوی ته د د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو لارښوونه کول

**۷،۱ فعالیت: د ولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا غړو ګمارنه بشپړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت د مسلکې پراختیا ریاست له لوري په دې ولایت کې د ښوونکو د مسلکې پراختیا غړي نه دي ګمارل شوي.

۷،۲ فعالیت: د مسلکې پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو د لایحو، خارنیزو وسایلو، د افکارو د روښانولو او مسؤولیت منني په اړه د معرفتي او رهنمودي ښوونیزې برنامې دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې ۱۳۵ تنه د مسلکې پراختیا غړوته د ظرفیت لوړوني ٦ ورځنۍ ښوونیزې برنامې دایرې شوې دي.

۷،۳ فعالیت: د ولایتونو د مرکزي هستې د علمي غړو لپاره ښوونیز ټرینینګ دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت له لوري د مرکزي هستې د ښوونکو د مسلکې پراختیا ۱۲ تنه غړو ته ۸ ورځنۍ ښوونیزې برنامې دایرې شوې دي.

### 2.2.8 لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا د غړو لپاره د وړتیا لوړونې برنامو دایرول

۸،۱ فعالیت: د شوراګانو د غړو ظرفیت لوړول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ولسوالیو د ښوونځیو د شورا ګانو ۵۰۰ تنه غړو ته د ظرفیت لوړونې ۳ ورځنۍ برنامې دایرې شوې دي.

### 2.2.9 لومړیتوب: د نویو مقرر شوو ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړول او مسلکې پراختیا

۹،۱ فعالیت: د جدیدالتقرر ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې ۴۰۰ تنه نویو ګمارل شویو ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو ۶ ورځنۍ برنامې داېرې شوې دي.

۹،۲ فعالیت: د جدیدالتقرر سرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړولو ښوونیزې برنامې دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت پوهنې ریاست له لوري ۲۵۰ تنه نویو ګمارل شویوسرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړولو ۵ ورځنۍ برنامې داېرې شوې دي.

### 2.2.10 لومړیتوب: د ښوونکو، زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره د وړتیا لوړونې زمینې برابرول

۱۰،۱ فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت له لوري د روغتیا ښوونکو ته روغتیایي ورکشاپونه نه دي دایر شوي.

۱۰،۲ فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت له لوري د روغتیامدیرانو ته ورکشاپونه دایر شوي نه دي.

۱۰.۳ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د پوهنې د بدني روزنې د مسلکې او غیر مسلکې ښوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره د بدني روزنې (حرکې لوبو) ښوونیز سمینارونه په لاره اچول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د پوهنې ریاست د بدني روزنې د مسلکې او غیر مسلکې ښوونکو لپاره د پوهنې وزارت څخه ښوونیز سیمینارونه په لاره نه دي اچول شوي.

### 2.2.11 لومړیتوب: د سوادزده‌کړې برنامې ته د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د سیمې د خلکو همکاري

۱۱،۱ فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د ښوونکې د کمښت د رفع کولو لپاره د ځایي خلکو له لوري افتخاري تدریس او د غیر رسمي ښوونکو توظیفول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې دې ولایت کې ۳ افتخاري کورسونه (چې یو کورس د متاخان ولسوالۍ په مقام کې د نالوستو مجاهدینو لپاره، یو کورس د پوهنې ریاست د مرکزي هستې ملازمینو لپاره او یو کورس د مرکزي زندان زندانیانو ته) د افتخاري ښوونکو په مرسته جوړ شوي دي.

## 2.3 نصاب

### 2.3.1 لومړیتوب: د اړونده مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخیستل ترویجول

۱،۱ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست د ساینس مرکزونو د علمي غړو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د سیمه ایزو، عیني تجربو او موادو د رواجولو لارښود دپوهنې وزارت څخه نه دی راستول شوی.

۱،۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د سیمه ایزو، عیني تجربو او موادو د رواجولو لارښود دپوهنې وزارت څخه نه دی راستول شوی.

۱،۳ فعالیت: لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د سیمه ایزو، عیني تجربو او موادو د رواجولو لارښود دپوهنې وزارت څخه نه دی راستول شوی.

### 2.3.2 لومړیتوب: د ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو بیا کتل او وېش یې

۲،۱ فعالیت: د دارالعلومونو د مدرسینو او ښوونکو لپاره له ۴ تر ۱۲ټولګیو پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اورګون ولسوالۍ اړوند د سرخت او جونخیل ښوونځیو ته ۱۳ سیټه د ښوونیز نصاب سره سم د تجربو د لارښود کتابونه وېشل شوي دي.

### 2.3.3 لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو ( د ریاضي، بیولوژۍ کې ټونو، ښوونیزو چارټونو او ویډیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي زمینه برابرول

۳،۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې امریتونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږد
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې درسي مرستندویه مواد د پوهنې وزارت له لوري دې ولایت ته نه دي راستول شوي.

۳،۲ فعالیت: د ولسوالیو/ ناحیو د پوهنې له آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د درسي مرستندویه موادو لېږل
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې درسي مرستندویه مواد د پوهنې وزارت له لوري دې ولایت ته نه دي راستول شوي.
۳،۳ فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د درسي مرستندویه موادو وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۱ د بیولوژۍ موډل،۱۳ مختلف چارټونه، ۴۸ د ریاضي کیټونه او ۴۵ بایه منځنیو ښوونځیو ته ٦۴۷ بساط چارټونه وېشل شوي دي. همدارنګه د چهاربران ولسوالۍ علیزو او متاخان ولسوالۍ سیدو قلعه ښوونځیو ته دوه دوه پایې لابراتواري میزونه وېشل شوي دي.

### 2.3.4 لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې لپاره د کمبود درسي کتابونو په ځانګړې توګه اساسي مضمونونو چاپ او د هغو متوازن وېش

۴،۱ فعالیت: له ذیدخلو اړخونو او مرکزي او ولایتونو له ریاستونو سره د درسي کتابونو په کمښت کې همغږي او اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو درسي کتابونو د کمښت اړتیا سنجونه د پوهنې ریاست د ښکیل اړخونو سره په همغږۍ تر سره شوې ده چې د هغې له مخې په دې ولایت کې ۳۲۹،۷۵ ټوکه درسي کتابونو ته ضرورت لیدل کیږي.

### 2.3.5 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په منظور د بدنې روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېشل

۵،۱ فعالیت: د پوهنې د مکز او ولایتونو په ښوونځیوکې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېش
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتابونه د پوهنې وزارت څخه دې ولایت ته نه دي راستول شوي.

### 2.3.6 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

٦،۱ فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د ضرورت وړ کتابونو اړتیاسنجونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په کچه د سواد زده کړو برنامې د ضرورت وړ کتابونو اړتیا سنجونه تر سره شوې ده. د نومورې اړتیا سنجونې له مخې پکتیکا ولایت کې د سواد زده کړو برنامه ۵۰۰،۱۰ سیټه کتابونو ته اړتیا لري. چې له جملې یې ۵۰۰،۳ قرانکریم، ۵۰۰،۳ پښتو ، ۵۰۰،۳ ریاضي دي چې د پوهنې وزارت څخه د ۵۱۲ ګڼه وړاندیز په اساس غوښتل شوي دي.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.

## 2.5 ښوونیز چاپیریال

### 2.5.1 لومړیتوب: په ښوونیزو کې د لابراتوارونو او کمپیټر لبونو جوړول او تجهیزول

۱،۱ فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په منظور د ښوونیزو مرکزونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د مرکز او ۵ ولسوالیو(مرکز پوهنې آمریت اړوند ۴ بابه، متاخان ولسوالی ۱ باب د اورګون ولسوالی ۴ بابه، بکخیل ولسوالی ۱ باب ، شخیل اباد ولسوالی ۱ باب او سروبي ولسوالی ۱ باب ښوونځیو لابراتوارونو) څخه د تجهیز په موخه اړتیا سنجونه تر سره شوې ده.

۱،۲ فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو لابراتوارونه رامنځته کول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د اورګون دارالعلوم او ساینس مرکز له ګدام څخه د سرخت او جنوخیل ښوونېزو مرکزونو کې نوي لابراتوارونه ایجاد شوي دي.

۱،۳ فعالیت: په سامان آلاتو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت په مرکز او ۳ ولسوالیو کې (مرکز اړوند خلیف بابا ښوونځی په ٦ قلمه، الجهاد ښوونځی په ۴۲ قلمه، قدیر احمدزي ښوونځی په ٦٦ قلمه، سید جلال بخاري ښوونځی په ۷ قلمه او خواجه خیل

ښوونځی په ۷۸ قلمه، د متاخان د سیدو قلعه ښوونځی په ۱۷٦ قلمه، د اورګون ولسوالۍ د بالیش او کهنه ښوونځي په ۲۷٦ قلمه او د بکخیل ولسوالی هاشمیه ښوونځی په ۵۹ قلمه کیمیاوي، بیولوژیکي او فزیکي موادو تجهیز شوي دي.

### 2.5.2 لومړیتوب: د ادارو په دیپوګانو کې د ګټې اخیستنې وړ منابعو ( درسي کتابونه، مېز او چوکی، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خېمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري موادو) پېژندل او د هغې متوازن وېش

۲،۱ فعالیت: په اړوندوګدامونو او اداروکې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندنه او د استفادې لپاره په ښوونیزو مرکزونوکې د هغو متوازن وېش

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د ساینس مرکز په ډیپو کې شته وسایل، تجهیزات او لابراتواري موادو پیژندل شوي دي چې د خدماتو مدیریت سره په همغږۍ به اړونده مرکزونو ته وویشل شي.

### 2.5.3 لومړیتوب: د بې ښوونکو ټولګیو لپاره لازم تدبیرونه نیول

۳،۱ فعالیت: د بې ښوونکې درسي ټولګیو پېژندنه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند مرکز او ولسوالیو کې ٦۹۵ بابه بې ښوونکې درسي ټولګې پېژندل شوي دي.

۳،۲ فعالیت: د هغو ښوونیزو مرکزونو پېژندنه چې پر ښوونکې د زده‌کوونکې نسبت یې له ټاکل شوي نورم څخه ټیټ دی

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې ۱۸۹ بابه ښوونځي پیژندل شوي دي چې پر ښوونکو د زده کوونکو نسبت یې له ټاکل شوي نورم څخه ټیټ دی.

۳،۳ فعالیت: د لارښود تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت څخه نوموړی لارښود نه دی راستول شوی.

۳،۴ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت څخه نوموړی لارښود نه دی راستول شوی.

۳،۵ فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت څخه نوموړی لارښود نه دی راستول شوی.

۳،٦ فعالیت: په ښوونیزو مرکزونوکې د لارښود پلي کول

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت څخه نوموړی لارښود نه دی راستول شوی.

۳،۷ فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکې ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکې د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره همغږي

د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د بې ښوونکو ټولګیو لپاره دخدمتي، قراردادي او رسمي ښوونکو د تدابیرو په اړه دکارکوونکو چارو د عمومي مدیریت سره همغږي نه ده تر سره شوې.

### 2.5.4 لومړیتوب: د آزادې فضا ټولګیو لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

۴،۱ فعالیت: د هغو ښوونځیو چې په آزاده فضاکې د ټولګیو لرونکې دي او دهغو ټولګیو چې په آزاده فضاکې قرار لري پېژندنه

د ۱۴۰۴ مالي په جریان کې د پوهنې ریاست اړوند په مرکز او ولسوالیو کې ۵۳۹ بابه ښوونځي او ۵۵۷ بابه ټولګي پیژندل شوي چې په ازاده فضا کې قرار لري.

**۴،۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د پوهنې ریاست ته د آزادې فضا ټولګیو د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونه تر سره شوې ده.

**۴،۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د آزادې فضا ټولګیو د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونه تر سره شوې ده.

**۴،۴ فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د دې ولایت د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونیزو مرکزونو ته د آزادې فضا ټولګیو د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونه تر سره شوې ده.

### 2.5.5 لومړیتوب: د صنفي اصولو دورې په ځانګړې توګه لومړي ټولګي ته د بهترین ټولګي ځانګړي کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

**۵،۱ فعالیت: د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې دبهترین ښوونکې د توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه څارنه تر سره شوې ده.

**۵،۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې په ځانګړې توګه د لومړي ټولګي لپاره دبهترین ښوونکي د توظیفولو د لارښود د تطبیق په اړه د دې ولایت پوهنې ریاست ته لارښوونه تر سره شوې ده.

**۵،۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې په ځانګړې توګه د لومړي ټولګي لپاره دبهترین ښوونکي د توظیفولو لارښود دتطبیق په اړه د ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.

**۵،۴ فعالیت: د لاښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې د صنفي اصولو په دوره کې په ځانګړې توګه د لومړي ټولګي لپاره دبهترین ښوونکي د توظیفولو لارښود دتطبیق په هکله ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه تر سره شوې ده.

### 2.5.6 لومړیتوب: د ښوونیز کال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د ښوونیزو فعالیتونو ( بې له وقفې ) پیلولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

**٦،۱ فعالیت: د ښوونیزکال په پیل کې په ښوونځیوکې د ښوونیزو فعالیتونو له شروع څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه**
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان کې په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د ښوونیز کال په پیل کې په ښوونځیو کې د ښوونیزو فعالیتونو له پیل څخه د ډاډ تر لاسه کولو په منظور حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

۶،۲ فعالیت: د ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان  کې د ښوونیز کال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د ویش له بهیر څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.

۶،۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان  کې د لارښود دتطبیق لپاره د پوهنې ریاست ته لارښوونه شوې ده.

۶،۴ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان  کې د لارښود دتطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه شوې ده.

۶،۵ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لاښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان  کې د لارښود دتطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه شوې ده.

### 2.5.7 لومړیتوب:  حد اکثر په دوو ټایمونو کې د ښوونیزو مرکزونو د تنظیم لپاره د لازمو تدبیرونو نیول

۷،۱ فعالیت: دهغو ښوونځیو پېژندنه چې له دوو څخه زیات درسي ټایمونه لري
د دې ولایت د پوهنې ریاست اړوند مرکز او ولسوالیو کې داسې ښوونیز مرکز شتون نه لري چې  دوه وخته  تدریس پکې کیږي.

۷،۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان  کې  له دوه څخه زیات درسي ټایمونو لرونکو ښوونځیو د لارښود د تطبیق په هکله د دې ولایت د پوهنې ریاست ته لارښوونه تر سره شوې ده.

۷،۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالۍ د پوهنې د آمریتونو لارښوونه
د ۱۴۰۴ مالي کال په جریان  کې  له دوه څخه زیات درسي ټایمونو لرونکو ښوونځیو د لارښود د تطبیق په اړه د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه  تر سره شوې ده.

۷،۴ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه
